# ناروې ته راتګ

Aamiina
Julie Cornelia van Walsum
Shir Ahmad Laiwal
5
پښتو ps

زه او زما دوه ورونړه د ۲۰۱۶ کال په دیسمبر کي ناروې ته راغلو. موږ د دوبی کالي اغوستی وه ځکه چی موږ فکر کوي چی هلته به هم هغسي ګرمي وي څنګه چی په سومالیا کي وه. لیکن کله چی موږ هوایی میدان ته راورسیدو، واوره اوریدل. زموږ یخ کېده او هوا ښایسته وه. که څه هم موږ لږ بستي راوړي وي د کالو ده په کوم کی چی موږ یوازي د دوبی کالي لرل.

اګر که یخ هم وو، زه ډیر خوشحاله وم کله چی مونږ ناروې ته راغلو. بالاخره ما د خپلي مور سره ولیدل ځوک کی ما د شپږو کالو راهیسي نه وه لیدلي. زما مور او دهغي دوو ملګرو زموږ سره ولیدل. کله چی موږ دا ولیدل، موږ د خوشخالیه وژړل. موږ زما د مور دي کوچنی کلي ته په موټر کي ولاړو.

زما د مور په کلي کې هغه اولي ورځی توپیر لرونکي وي. هوا یخه او واورینه وه او د لیدلو لپاره ډیر څه نه وه. کوڅي مکملې خالي وې. هغه څو کسان چی ما ور سره ولیدل بی میني او نامهربان معلومیدل. په سومالیا کی به هر طرف ته خلک وه، نو دلته هر څه نا اشنا وه. زما مور او د دي ملګرو و موږ ته تحفې راکړې، او وروسته دي موږ د ژمي د کالو رانیولو لپاره بوتلو.

د کريسميس د روخصتيو وروسته ما د ځوانانو د تعليم په مرکز کي په يو کورس کي ګډون وکړي. د يو عادي مکتب د شروع کولو مخکښې ما هلته دوه کاله درس وويلی. اوس زه په وروستي کال کي يم، او ما زيات نوي ملګري پيداکړي دي. زه ډير ټولنيز يم او زما خوښيږي چی د نورو خلکو سره ووينم.

د مکتب وروسته زه یوه کورس ته ځم چیری چی ځینی رضا کاران زما سره د کورنۍ کار په کولو کي مرسته کوي. ما په هغه سینتر کي د ګنډلو یو کورس هم شروع کړي دي.

په سومالیا کي زه هیڅ کله مکتب ته نه وم تللي او یا هیڅ وخت مي په کورسونو کي ګډون نه وو کړې د قران د کورسونو څخه بغیر. زه په لیکلو او لوستلو نه پوهیدم. اوس ما زده کړي دي چی څنکه په سومالي او ناروي ژبو لیکنه وکړم، او نور مضامین مي هم زده کړي دي. د تعلیم څخه بغیر، ما دغسي احساس کوی چی زه هیڅوک نه یم. اوس زه د پوهي او خوشحالي احساس کوم.

راتلونکي کال به زه ثانوي مکتب د ځوانانو او صحت د پرمختګ په برخه کي شروع کړم. ما اینده کي زه غواړم د ځوانانو او پیغلانو په بخش کي کار وکړم. کله چی تعلیم ختم کړم، زه دا هیله لرم چی دایمي وظیفه پیداکړم. زه همدا شان غواړم چی د موټر چلولو زده کړم او لایسنس تر لاسه کړم.

که زه په سومالیا کی پاتې شوي وایی، زه فکر کوم چی اوس به زه یوه مور وایی. شاید ما اوس زیات کوچنیان درلودای. که زه په سومالیا کي وایی، ما به دغسي فرصتونه نه درلودای لکه اوس چی یی لرم. زه د ډیرې خوشبختی احساس کوم چی په ناروې کي اوسیږم.

# LIDA Stories

lidastories.net

## ناروې ته راتګ

Aamiina
Julie Cornelia van Walsum
Shir Ahmad Laiwal

CC BY